مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۱۲/۲۹

کله او څنګه ماشوم له تي پرې کړو؟

د مور شیدي ماشوم ته دوي مهمي ګټي لري. د ماشوم له جسمي او ذهني ودي سره مرسته کوي او له مور سره د ماشوم عاطفي رابطه ټینګه ساتي. ځېرنو ښودلي ده چې که ماشوم تر دوه نیم کلنۍ پورې تی وروي، زکاوت به یې تر هغو ماشومانو زیات وي چې په کم عمر کې له تي پرې شوي وي. زما مجیب الله دوه نیم کاله د مور تی رودلی او اوس یې وینم چې ذهن یې ډېر ښه دی. اوس چې دی څلورنیم کلن دی، د الفبې ټول توري پېژني او اکثره توري لیکلای شي، د وطن د ټولو ولایتونو نومونه یې زده دي او په نقشه کې یې ښودلی شي. د ژبې په زده کړه کې هم ښه تکړه دی.

د تي ورکولو حد اقل وخت یو کال دی خو که ماشوم تر دوه یا دوه نیم کلنۍ پورې د مور په شیدو تغذیه شي، ډېره به ښه وي. تر شپږو میاشتو پورې به ماشوم ته یوازې د مور شیدي ورکوئ خو چې شپږ میاشتې یې پوره شوي، ورو ورو نور خواړه هم ورکړئ. په لومړي سر کې یوازې اوبلن شیان، لکه د میوې اوبه (البته د قوتیو جوس نه یادوم، د تازه میوو اوبه به پخپله ورته وباسئ)، د زیمني (قورمې) لعاب، د اېشول شویو وریجو اوبه او داسې نور. وروسته بیا هر شی چې مو پوخ کړی وي، په پاکو ګوتو به یې نرموئ او ماشوم ته به یې ورکوئ. یو نیم کلن ماشوم باید هر هغه خواړه وخوړای شي چې په کور کې پخیږي به غیر له غوښې ځکه چې د غوښې د ښه ژوولو لپاره یې غاښونه کافي نه وي او هضمول یې سخت وي.

که مور مجبوره وي چې ماشوم په کم عمر (تر یو کلنۍ په کم عمر) له تي پرې کړي، باید ورته داسې وچې شیدي ورکړي چې اوسپنه او مینرالونه په کې زیات وي. شیدي د ټولو ماشومانو لپاره ګټوري دي. نو که ماشوم په دوه کلنۍ کې هم له تي جلا کېږي، باید د غوا یا وزې تازه شیدي او یا پوډري شیدي ورکړل شي.

یو ناڅاپه ماشوم له تي محرومول، مور او ماشوم دواړو ته تاوان لري. مور ته یې تاوان دا دی چې شیدي تولیدېږي خو خارجېږي نه. شیدي چې د مور په تي کې راټولې شي، اکثره وخت د ګزک سبب کېږي. همدارنګه د تي په سر کې ممکن چاودي پیدا شي. ماشوم ته بیا راوني (ارواېي) صدمه رسوي.

ښه لاره یې دا ده چې ماشوم ورو ورو له تي پرې شي. مثلاً، مور دې په هرو دوو درېو اوونیو کې د تي ورکولو یو وخت قضا کړي. که یې پخوا په ورځ کې پنځه ځله شیدي ورکولې، ځلور ځله دې یې کړي، دوه اوونۍ وروسته دې دري او همداسې دوه او یو وار ته ورسوي او بیا یې یو مخ بند کړي. د دې لپاره چې ماشوم دا کار وزغمي او ورسره روږدی شي، د تي ورکولو وخت چې راورسېږ، په بل څه یې بوخت کړئ. کیسه ورته ووایئ، لوبه ورسه وکړئ، سندره ورته ووایئ ... د قضا شوي ځل پر ځای په هماغه وخت کې بل خواړه ورته ورکړئ مثلاً یوه پیاله شیدي، بسکټ، د میوې اوبه یا بل څه.

یا خو د تي ورکول وخت دې وار په وار سره کم کاندي. فرضاً که هر ځل ماشوم ته لس دقیقې تی ورکوي، دا وخت دې پنځو دقیقو ته راکم کړي. خو د شپې چې ماشوم وږده کېږي، غواړي زیات وخت تی وروي او مور باید دا کار وکړي.

بله لاره یې دا ده چې د تي ورکول وخت وځنډوئ. فرضاً که ماشوم ته ماسپښین او مازدیګر تی ورکوئ، ماسپښین ورته ووایئ چې لږ صبر وکړه وروسته به یې درکړم. تر مازدیګره پورې ماشوم په نورو شیانو بوخت وساتئ او مازدیګر بیا شیدي ورکړئ. همداسې بیا د مازدیګر او مابنام وختونه سره یو کړئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

زمور په ټولنه کې ميندې ماشومان په ظالمانه ډول له تې پرې کوي. دا کار يو په يو کوي، نه په تدريجي توګه. بل ظلم يې دا چې د تې پر سر مرچ يا بل تريخ شی موښي، يا يې د بوټانو په رنګ توروي چې ماشوم ځنې وډار شي. دا کارونه ناسم دي.

ماشوم که هر وخت له تې جلا کړئ، ممکن لږ ضدي شي، ربړنګه وکړي او پلمې وکړي. مور و پلار ته په کار دي چې ورسره په مينه وچلېږي. ورسره لوبې وکړي، کيسه ورته ووايه او د عاطفې د کمښت احساس يې ختم کړي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ